# نواب شاد محمد خان د رحمان بابا د مکتب یو کلک غړی

**Nawab Shad Muhammad Khan, a Strong follower of the Rehman Baba School of Thought**

ډاکټر احمد علي عاجز*

**Abstract:**

RehmanBaba, was one of the famous poet through out the world, who needs no introduction. His school of thought is very lovely, attractive, and a large number of poets dedicated his poetry to him. Among them, one of his followers was Nawab Shad Muhammad Khan. He was inspired too much from Rehman Baba. Therefore, he followed him with each and every angle we can see spiritual touch in his poetry. Let do prove that with discussion and example Nawab Shad Muhammad Khan himself, was one of the Sufi and Mendicant person. Therefore, we can see all the signs of Sufism, found in his poetry.

هسې خو په پښتو ادب د رحمان مکاتب فکر دومره ډېر دي لکه د انسان په سر چې وېښتهٔ وي. خو دا ځنې ځنې وېښتهٔ یقیناً انسان ډېر ښائسته وي لکه د ناوې اوربل او د زلمو څڼوکی. او په دې کښې هم هیڅ شک نهٔ شته د انسان په رنګ انسان وي. او د ډېرو انسانانو خویونه او خصلتونه د یو بل سره هم ملاویږي. ځنې د خپل کردار او خصلتونو په برکت ډېر زیات مشهور شي. چې د انسان زړهٔ پرې مئین شي. او د هغهٔ هره یوهٔ ادا ورته ښهٔ ښکاري. ترې ځان قربانوي. په دې انسانانو کښې یو انسان رحمان بابا هم دی. د خپل وخت یو کامل انسان او خوږ ژبی شاعر وو. هم د دغه خوږوالي په وجه ورته الله پاک لوی مقام، اوچته درجه ورکړې ده.

د رحمان بابا مکاتب فکر فهرست دومره اوږد دی چې دلته زهٔ د هغوی مختصر ذکر هم کوم نو خبره ډېره لرې لاړه شي.

زما منشاء د نواب شاد محمد خان رئیس مردان سره چې په دې لویه خانۍ او نوابۍ کښې دومره سرکوزي ښودلې ده چې انسان ورته حېران شي.

زما د نواب شاد محمد خان سره هغه وخت عقیدت پېدا شو کله چې پښتو اکیډیمي د دوی دیوان چاپ کړو. چې د بده مرغه پرې د چاپ کال نهٔ شته. وروستو بیا محمد نواز طائر د بېګم زري سرفراز په مالي مرسته په دوېم ځل سره د نورو کتابي نسخو لکه دبیر دانش، معراج نامه په کال ۱۹۹۳ء کښې چاپ کړو.

---

* Professor, Department of Pashto University of Pashawer KPK

په دې لړ کښې د نواب شاد محمد خان د خاندان شجره هم د عبدالحليم اثر په مرسته خوندي شوې ده. چې دغه شان ده.

شجره خاندان مند بن شخي يا خشی بن کند بن خرشبون بن شړبن بن قېس عبدالرشيد






.(1)"

دا خو شوه د شاد محمد خان د خانداني شجره چې د پښتو اکېډمۍ له خوا په دوېم ځل چاپ شوي دیوان کښې موجوده ده.

دلته سوال دا پېدا کیږي چې شاد محمد خان څوک ؤ. په دې حقله د دیوان په سر پاڼو کښې داسې لیکي:

"شاد محمد خان د مردان یو دروند پښتون او نوموړی خان ؤ. چې د فتح خان، سرفراز خان او عبدالرحمان پلار ؤ او د پښتونخوا د نومیالۍ لور بېګم زري سرفراز او سیاستدار میر افضل خان نیکۀ ؤ. او د عیسوي تقویم مطابق درې شپېتو کالو په عمر کښې ۱۳۱۸هـ کښې ژوندی دی او په ۱۹۰۱ء کښې وفات شوی دی.

شاد محمد خان د خانۍ سره سره یو عالم او ادیب هم ؤ. په دې نسبت د هغۀ په کردار او اخلاق د علمیت، پرهېزګارۍ او د درویشۍ رنګ زیات خور ؤ. د ستر سخت پابند وو او د

انسانیت ربنتونی عالمبردار ؤ. د معراج نامې او دبیر دانش په نوم پښتو منظومې ترجمې د هغوی د علمي او ادبي ذوق ښکاره شهادتونه دي.

د شاد محمد خان ادبي محفلونه ډېر زیات خوښ وو. او د علاقې لویو لویو عالمانو او شاعرانو به دوی سره ناسته پاسته کوله بعضې ته پکښې باقاعده وظیفې او انعامونه ملاوېدل.

ډاکټر پروېز مهجور د دې خبرې په تائید کښې لیکي چې: شاد محمد خان په حلقه کښې به اکثر عوامي اولسي شاعرانو ناسته پاسته کوله. د دوی خپله مکاتب فکر د خاوندانو دومره لویه فراخه حلقه ده چې نومونه شته دي.

د مثال په توګه د باورې اخون چې د هغه وخت مشهور لیکونکی وو. په دې چاربېته کښې به مونږ ته د شاد محمد او د لیکوال سیرت او صوبت په ښهٔ توګه ښکاره شي چې د چاربېتې په اخري بند کښې لیکي:

چاربېته:

په شانته د شیشې دي روغ زما د خولې وئېل
پوچ نهٔ یم پوچ نهٔ وایم پوچ وئېل د پوچو کار دی
هارونه مې د درو په خپل فکر اوپېئل
سالک په سلوک باندې مې خلق خبردار دی
نیولې په لاس کښې ده لمن د پیر کامل
نوکر د شاد محمد یم په ربنتیا سخي سردار دی
باور وائي اکثر مې په سر ږدي زرین شالونه
په مخ باندې دې زلفې برغ وهي ټالونه
سردار دی صفتونه ئې لازم په باوري دي
ګلاب د پرخې ډک دي پکښې ابښي سحري دي"(2)

د دې نه معلومېږي چې د هغهٔ په ژوند د هغهٔ معتقدین موجود وو. ولې هغهٔ د بل چا په مینه او عشق کښې مست ؤ. هغه د رحمان بابا معتقد ؤ. نواب شاد محمد خان د خپلې پاکې او سپېځلې مینې په برکت قلم چرته د ګوتو نهٔ دی غورځولی. د هغې ثبوت دا دی چې خان صاحب بقول د استاذ رفیق چې هغه نور ډېر کتابونه هم لیکلي او ترجمه کړي وو چې بده مرغه د دوو کتابونو نه علاوه نور مونږ ته لا په ګوتو نهٔ دي راغلي.

۱. معراج نامه:

چې خواجه معین الدین هروي الکاشي د فارسۍ کتاب دی چې نوم ئې معارج النبوه دی. دا ئې په پښتو کښې منظوم ترجمه کړې ده.

لکه چې شاد محمد خان خپله وائي:

د تصنیف د دې کتاب دا سبب
چې ما اولید یو کتاب بسیار عجب

د هغۀ نوم معارج النبوت ؤ
د معراج پکښې صاف د حضرت ؤ

زړۀ مې اوشو چې پښتو کړمه معراج
چې د خپلې پوهې ورکړمه خراج

۲. د بیر دانش:

چې د انوار سهېلي په نوم یادیږي. دوی دا کتاب د امیر شیخ احمد سهېلي په حکم د عربۍ نه فارسۍ نثر ته راواړو او تړون ئې هم انوار سهېلي په نوم اوکړو.

اګرچې د دې کتاب په ډېرو ژبو کښې ترجمې شوې دي. خو د افضل خان خټک د کلیله دمنه د پښتو ترجمې نه پس شاد محمد خان د انوار سهېلي پښتو ترجمه د دبیر دانش په نوم اوکړه.

دغه دور د پښتو ادب د ترجمو دپاره ډېر ګټور ثابت شو. په دې حقله ډاکټر راج ولي شاه خټک لیکي:

"ولې کوم دور چې ترجمې دپاره د ذکر وړ دی په حقیقي معنو کښې د منظومې او منثورې ترجمې دور دی هغه د دیارلسمې صدۍ هجرۍ ادبي تحریک دی. په کوم چې بې شمېره رومانونه او دیو مالا منظوم ترجمه شول"(3).

شاد محمد خان د خوږ او زړۀ راښکونکی کلام او شخصیت رانه موضوع اصلیت داسې هېر کړو چې پوې هم نۀ شوم او خبره را نه اوږده شوه.

لکه چې ما ذکر وکړو چې د رحمان بابا د سرو کار او مکاتب فکر شمېر نۀ شته دی په دې عنوان باندې ډاکټر نصیر احمد پي ایچ ډي سند هم اخستی دی.

په کلاسیکي شاعرانو کښې عبدالعظیم رانیزی، حافظ الپوري، معزاالله مومند، یونس خېبري، خواجه محمد بنګش، نجیب سربندي، مصري خان ګګیانی، پیر محمد کاکړ، نواب محبت خان، احمد شاه ابدالي، میا نعیم خلیل، پیر مطیع الله او داسې نور.

خو په دې ټولو شاعرانو کښې یوازې نواب شاد محمد خان دی چې دوی ټول کلام الف نه تر یې د رحمان بابا په زمکه اراسته دی.

که دلته د یو بزرګ دغه وېنا یاده کړمه نو بې ځایه نۀ وي.

"رحمان بابا اصل دی نو نواب شاد محمد خان ئې سېوری

که د رحمان بابا شاعري اصل دی نو د خان صاحب شاعري ئې سوری دی چې لاژم او ملزوم دي. ګویا که یو وجود دی نو بل ئې روح دی. او شاید هم دغه وجه وي چې د نواب صاحب کلام لوستو سره د انسان زړۀ ته پرېوځي. د رحمان بابا د عقیدت او د مینې دغه بې مثاله ثبوتونه مونږ د هغوی په شاعرۍ کښې ډېر جوت او ښکاره وینو.

رحمان بابا قدم اوچت کړی خان صاحب پرې قدم اېښودی.

د رحمان د عقیدت مثال د خان صاحب ټول دیوان دی. خو راځئ چې د مثال په توګه ترې څۀ اشعار راواخلو.

رحمان بابا:

ګوره هسې کردګار دی رب زما
چې صاحب د کُل اختیار دی رب زما
شریک نۀ لري په خپله بادشاهۍ کښې
بې شریکه شهریار دی رب زما"(4)

شاد محمد خان:

ګوره هسې پاک سبحان دی رب زما
چې صاحب د کل جهان دی رب زما
شریک نۀ لري په خپله بادشاهۍ کښې
بې شریکه بې مکان دی رب زما"(5)

رحمان بابا:

نور هاله د محمد وو په جهان کښې
چې بوی نۀ وو د آدم او د حوا
په صورت کښې اخرین دی پېدا شوی
په معنٰی کښې اولین دی تر هر چا
محمد د بېچاره ؤ چاره ګر دی
محمد دی د هر دردمند لره دوا"(6)

شاد محمد خان:

که نوري صورت دی شوی اخرین دی
مګر مشر د آدم ئې د حوا

د دردمندو زړونو درد شي په تا لرې
تهٔ رحمت خدای پیدا کړی هم دوا"(7)

رحمان بابا:

ما سحر سبا لیدلی وو د چا مخ
چې مي درسته ورځ و نه لیدهٔ دا ستا مخ"(8)

شاد محمد خان:

چې مې ولیدهٔ سحر د اغیار مخ
درسته ورځ مې ونهٔ لیدهٔ د یار مخ"(9)

رحمان بابا:

ما و درست جهان ته شا و تا ته مخ کړ
تا و درست جهان ته مخ کړو ماته شا کړه"(10)

شاد محمد خان:

تمامي عالم ته مخ کړې ماته شا کړې
تل له ما څخه کوې حجاب په هېڅ"(11)

د رحمان بابا دغه غزل چې په اولس کښې ډېر زيات مشهور دی.

رحمان بابا:

ولې نهٔ ګورې و ماته سم په څهٔ
زیاتوې د غم زده وو غم په څهٔ
زهٔ رحمان په خپله ګرم یم چې مئین یم
دغه نور عالم مې بولي ګرم په څهٔ"(12)

شاد محمد خان:

ولې نهٔ ګورې و ماته سم په هېڅ
لا د بکې راته کوي صنم په هېڅ
چې د عشق په جذبه بې خوده ګرځم
دا همه عالم مې بولي ګرم په هېڅ"(13)

رحمان بابا:

چې یو غابښ په خُلهٔ کښې زوړند شي یا ووځي
درسته خُلهٔ پرې بدنمایه شي هر ګور"(14)

شاد محمد خان:

سپینه ړیره ټیټه ملا غابښ دې وتلی
چنګه خُلهٔ دې په مثال لکه وران کور"(15)

رحمان بابا:

د منصور و حال ته ګوره حال ئې څهٔ شهٔ
خدای دې فاش د هیچا نهٔ کاندي پټ راز"(16)

شاد محمد خان:

د زړهٔ حال دې ګورمه وایه و چا ته
شو سنګسار چې منصور اووې د زړهٔ راز"(17)

اوس د هغه اشعارو یو څو نمونې وړاندې کوو چې تر ډېره حده پکښې د دوی د فکر سوچ یو شان والی بیا نوندی شي. بره شعرونو کښې نهٔ صرف د ردیف قافیو یو شان والی دی بلکې اصلاحي او مذهبي رنګ پرې یو شان غالب دی. دا اشعار د پندونصیحت یوه بې مثله خزانه ده چې عموماً د مثال په توګه د متل په ځای استعمالوي او ورته د کاڼي کرښې وائي.

د شاد محمد خان او رحمان بابا دغه د کاڼي کرښې څهٔ په دې رنګ دي:

رحمان بابا:

که محنت که مشقت دی خو د دین دی
په کار نهٔ دی بل محنت په دا دنیا
په دنیا کښې که څهٔ کار دی خو د دین دی
د دې کار په کننده ؤ افرین دی"(18)

شاد محمد خان:

که څهٔ کار دی خو د دین دی بل څهٔ نهٔ دی
بې له دینه نور ګټه زیات و کم پوچ
اصل ګټه خو د دین ده که چا اوکړه
که چا ونکړه شو ټول د زیان په کوچ"(19)

رحمان بابا:

د ورخ تېرې اوبۀ بېرته نۀ جار اوځي
نۀ جار وځي تېر ساعت په بېرته بيا"(20)

شاد محمد خان:

هر چې لاړ شي دوباره نۀ راځي بېرته
نۀ رادرومي اوبۀ تېرې د سېلابه"(21)

رحمان بابا:

که ځوک تله د انصاف په لاس کښې درکړي
خپل تتهو او د بل اس به برابر کړي"(22)

شاد محمد خان:

دا کوم عقل کوم هنر او کوم انصاف دی
چې دې خره کړله د اسپې برابر"(23)

رحمان بابا:

لکه سيند د اباسين په غورځنګ درُومي
هسې يُون دی په تلوار تلوار د عمر"(24)

شاد محمد خان:

د دې عمر د رفتن هسې مشال دی
لکه درومي اباسيند جنيان په کوچ"(25)

رحمان بابا:

د کعبې په بزرګۍ کښې هېڅ شک نۀ شته
مګر خر به حاجي نۀ شي په طواف"(26)

شاد محمد خان:

د مکې په تلل به هېڅ حر حاجي نۀ شي
جاهل کله شي عالم په تش کتاب"(27)

رحمان بابا:

هسې چې سړي واړه سره سم دي
څوک عالي دي څوک اوسط دي څوک ادنٰی
د هر چا حرمت په خپله اندازه دی
نه چې مومي لغړ ځای دا مراء"(28)

شاد محمد خان:

پیدا کړی خدای هر کس په تفاوت دی
خان، سلطان به دا همه عالم به نۀ شي
هر چې غر دی همګي د تورو کاڼو
هر یو کاڼی به الماس نیلم به نۀ شي"(29)

لکه چې ما مخکښې ذکر کړ ی دی چې د خان شاعري یو پوخ عوامي او نیم عوامي روایتي رنګ لري. د تخیل د شوخو رنګونو استعارو کنایو او د ابهام د وربځو نه صفا د خارجیت د نمر په هغه سحر خېزه پلوشو منوره ده.

د تغزل شاعري چې کوم خصوصیات مولانا الطاف حسېن حالي په ګوته کړي هغه ټول مونږ د خان صاحب په شاعرۍ وینو.

ډاکټر خیال بخاري د دوی شاعري په دوه برخو کښې وېشلې ده. چې مجازي او دوېمه برخه تصوفي ده.

څنې عالمان وائي چې شاد محمد خان غزل یو نظمیه رنګ لري چې څنو غزلونه عنوان هم ټاکلي شي. د معراج نامې په حقله د پوهانو دا خیال دی. چې خان صاحب نعت لیکي نو هغې ته هم غزل وائي.

شاد محمد خان:

غلط مۀ شه په سنګار د دې دنیا
په دام نۀ شې ګرفتار د دې دنیا
حرص ناک تۀ که یو غر د زرو جوړ کا
موړ به نۀ شي طلب کار د دې دنیا"(30)

رحمان بابا:

چې نظر کړم په قسمت او په نصیب
راته هېڅ شي خپل تالاش او خپل ترتیب

ما په عشق کښې هېڅ حاصل نۀ کړۀ بې غمه
هر چې وائي واړه ښۀ وائي ادیب"(31)

شاد محمد خان:

بېلتانۀ دې کړمه هسې خوار غریب
چې به نۀ وي بل له مانه بدنصیب
عاشقۍ دې لېونی لکه مجنون کړم
څۀ به ما ته نصیحت کوي ادیب"(32)

بهر حال دغه خبرې به خپل ځای درست وي چې څېړنه ئې د عالمانو کار دی کېدی شي د دې هم نورې ګټه ورې خبرې رابرسېره کړي.

خو دې خبرې نه هېڅوک انکار نۀ شي کولی چې نواب شاد محمد د رحمان بابا د مکتب یو کلک غړی دی. او د بابا د عقیدت مندو په صف کښې ولاړ ښکاري. یو څو د شعرونو نمونې ګورو.

رحمان بابا:

هوښیار مۀ ګڼه هوښیار د دې دنیا
بې وقوف دی وقوف دار د دې دنیا
هر چې اچوي و اور ته هغه سوزي
موږ به نۀ شي طلب ګار د دې دنیا"(33)

شاد محمد خان:

راشه وباسه د بدو چارو لاس
نور به طبع باندې مۀ ځه د خناس
په دا هسې عمر بد ته هوس کړې
چې ړیره شوله سپینه غاښ کنډاس"(34)

رحمان بابا:

که څوک فخر کا په ننګ او په ناموس
دا به عشق کښې نۀ ارزیږي یو فلوس
نۀ ئې مغز نۀ دانه وي په خرمن کښې
عبث هسې په سر لوني واړه بوس"(35)

شاد محمد خان:

غلط مۀ شه په بانګونو د خروس
سحر دې وي په ګندګۍ پسې جاسوس

دانا ځان دې کړو نادان عبث لګیا ئې
دانې ګورې لټوي پسې تش بُوس"(36)

رحمان بابا:

اومه کله دې پاخۀ وائي واعظ
هر چې وائي واړه نۀ وائي واعظ
په خوږو پستو خبرو ئې غلط شوې
دا خوارۀ خوارۀ تراخۀ وي وائي واعظ"(37)

شاد محمد خان:

چې په عشق کښې راته پند کوي واعظ
لکه خر په کیل شخوند کوي واعظ
تریخ د زهرو د ګنډېره په ما لګي
هر کلام که خوږ تر قند کوي واعظ"(38)

رحمان بابا:

زړۀ مې تراشي د ښو په تېره نوک
ماتوي دوه دېرش غاښ واړه په سُوک"(39)

شاد محمد خان:

یو عشق نښاسي په زړۀ دوک
بل ببلتون مې ماتوي ځُلۀ غاښ په سوک"(40)

رحمان بابا:

اې زما د زړۀ ارمانه راشه راشه
سروې قده ګل اندامه راشه راشه
چې دا نور خوبان دې واړه مقتدیان دي
د همه واړو امامه راشه راشه"(41)

شاد محمد خان:

اې زما د زړۀ تسکينه راشه راشه
خبر زده کړه د مسکينه راشه راشه
چې همه خوبان دې لاندې تر قدم دي
تر همه ۀ بهترينه راشه راشه"(42)

دا او داسې نور ډېر اشعار بلکې غزلونه د شاد محمد خان په ديوان کښې موجود دي.

بهر حال د دې لنډ شان بحث مونږ په دې نتيجه رسو شاد محمد خان د کوم فکر او سوچ خاوند، د هغوی د شخصيت او فن د آئينه مونږ ته صفا شوه. خان يو درويش صفت انسان او دوست علم دوست انسان وو. د هغوی دې سپېڅلي او پاک سوچ ورته خدای پاک واحدانيت په ګوته کړی او ښودلی. شايد که په مخ د زمکې بل يو داسې شخصيت تېر شوی چې هغوی سره د سرو سپينو د مال او جاه و جلال د هېڅ څيز کمی نۀ وي او دوی په دې حال کښې د ملنګۍ، درويشۍ، قناعت پسندۍ، عالم دوستۍ زندګي تېره کړي. دا يو خان شاد محمد خن وو چې ځان له د ژوند تېرولو دپاره د ملنګ عبدالرحمان د ښپو قدمونه، د هغوی د ذهن فکرونه او د الله تعالیٰ غوره دين اسلام خوښ کړۀ. او د قرآن او سنت تر احکامو لاندې ژوند تېر کړو. بل خوا ته رحمان بابا ته د دې اصولو پابندۍ سره يعنې د قرآن او سنت په تعليماتو عمل کولو باندې په ټوله دنيا کښې لکه د نمر اوځللو.

رحمان بابا يو صادق عاشق رسول وو. او الله تعالیٰ همېشه د صادقانو مل وي. اګرچې دوی نه مخکښې ښۀ ښۀ شاعران تېر شوي دي ولې د هغوی اولس کښې هغه مقام بيا نۀ موند کوم چې د رحمان بابا نصيب شو. کېدی شي چې رحمان بابا دغه وېنا خدای پاک قبوله کړي وي:

الهي د خپل حبيب له برکته
دا ساده انشاء رنګينه د رحمان کړې"(43)

د نواب شاد محمد خان انتخاب له داد ورکول پکار دي. چې هغوی د داسې هستۍ پېروکاري کړې کوم چې انسان د خدای او رسول په لاره بيايي. شاد محمد خان په خپل محبوب په رښتيا مئين ۀ. ځکه خو ئې ټول ځان د هغوی په رنګ کښې کړو.

❁❁❁

# حوالې


(1) شاد محمد خان، دیوان، له قلمه قاضي عبدالحلیم اثر افغاني، مخ ۴۵۲

(2) هم دغه اثر، مخ ۱۲

(3) هم دغه اثر، مخ ۱۷

(4) عبدالرحمٰن بابا، دیوان، زیب آرټ پبلشرز، ۱۹۷۲ء، مخ ۲

(5) شاد محمد خان، دیوان، پښتو اکېډېمي پېښور یونیورستي، س ن، مخ ۲۱

(6) دیوان عبدالرحمان بابا، مخ ۳

(7) دیوان شاد محمد خان، مخ ۲۳

(8) دیوان عبدالرحمان بابا، مخ ۱۳۲

(9) دیوان شاد محمد خان، مخ ۱۳۴

(10) دیوان عبدالرحمان بابا، مخ ۱۴۷

(11) دیوان شاد محمد خان، مخ ۱۳۵

(12) دیوان عبدالرحمان بابا، مخ

(13) دیوان شاد محمد خان، مخ ۱۳۸

(14) دیوان عبدالرحمان بابا، مخ ۱۴۵

(15) دیوان شاد محمد خان، مخ ۱۲۰

(16) دیوان عبدالرحمان بابا، مخ ۵۳

(17) دیوان شاد محمد خان، مخ ۲۴۷

(18) دیوان عبدالرحمان بابا، مخ

(19) دیوان شاد محمد خان، مخ ۱۲۵

(20) دېوان عبدالرحمان بابا، مخ

(21) دیوان شاد محمد خان، مخ ۸۳

(22) دیوان عبدالرحمان بابا، مخ ۱۵۱

(23) دیوان شاد محمد خان، مخ ۱۷۲

(24) دیوان عبدالرحمان بابا، مخ

(25) دیوان شاد محمد خان، مخ ۱۲۲

(26) دیوان عبدالرحمان بابا، مخ

(27) ديوان شاد محمد خان، مخ ۹۱
(28) ديوان عبدالرحمان بابا، تدوين عبدالرؤف بېنوا، مخ ۵۱
(29) ديوان شاد محمد خان، مخ ۲۷
(30) ايضاً، مخ ۲۵
(31) ديوان عبدالرحمان بابا، بېنوا، مخ ۳۳
(32) ديوان شاد محمد خان، مخ ۸۰
(33) ديوان عبدالرحمان بابا، بېنوا، مخ ۹
(34) ديوان شاد محمد خان، مخ ۲۵۵
(35) ديوان عبدالرحمان بابا، بېنوا، مخ ۵۵
(36) ديوان شاد محمد خان، مخ ۲۲۰
(37) ديوان عبدالرحمان بابا، بېنوا، مخ ۲۳
(38) ديوان شاد محمد خان، مخ ۲۸۱
(39) ديوان عبدالرحمان بابا، بېنوا، مخ ۲۲
(40) ديوان شاد محمد خان، مخ ۲۰
(41) ديوان عبدالرحمان بابا، بېنوا، مخ ۱۰۳
(42) ديوان شاد محمد خان، مخ ۲۲۷
(43) ديوان عبدالرحمان بابا، بېنوا، مخ ۱۳۲

## کتابیات

(1) ديوان شاد محمد خان وړومبی چاپ
(2) ديوان شاد محمد خان دوېم چاپ
(3) ادبي تحريکونه
(4) پاکستانی ادب کے معمار (رحمان بابا شخصیت وفن)
(5) آؤ خدا سے ملیں
(6) ديوان معز الله خان
(7) ديوان عبدالعظيم رانيزی
(8) ديوان حافظ الپوري
(9) ديوان صحبت خان هروي
(10) معراج نامه

(11) دبیر دانش
(12) مقدمه شعروشاعري، الطاف حسېن حالي ترجمه پروفېسر محمد نواز طائر
(13) مقدمه له ډاکټر پروېز مهجور، دیوان شاد محمد خان ژوند او فن
(14) مقدمه له ډاکټر عظیم شاه خیال بخاري، دیوان شاد محمد ورومبی ځل